## اعلامیه مطبوعاتی

## د فرات ډال عملیات د حلب ښار د تسلیمولو په جرم پای ته ورسېدل



«ایا تاسو د ترکیې په څېر کوم بل داسې هېواد لیدلی چې د حلب د ۴۵ زره وګړو د ژغورلو هوډ ولري؟» دا د ترکیې د بهرنیو چارو وزیر چاوش اوغلو هغه خبره ده، چې د ترکیې په لویدیځ په ازمیر ایالت کې په یوه مشهوره دودیزه جرګه کې یې د وینا پر مهال وکړه. ده یوازې د تش په نامه اتلولۍ او غولوونکو بریاوو په اړه خبرې کولې.

دا څرګندونې په داسې حال کې کېږي، چې څو ورځې وړاندې د ملي امنیت شورا د فرات ډال عملیاتو د پای ته رسېدو خبر ورکړ؛ چې د عملیاتو له پیله خپلو اعلان شوو موخو ته ونه رسېدل؛ خو په حقیقت کې یې یوه موخه، چې د امریکا لخوا ورته ټاکل شوې وه، تر لاسه کړه.

یوه له دغو نا اعلان شوو موخو څخه، جنایتکار رژیم ته د حلب ښار تسلیمول وو، تر څو د شام د د انقلابیانو ارادې ماتې او په امریکایي پروژه کې یې بوخت وساتي؛ چې اساسي موخه یې د انقلاب له منځه وړل او د ظالم او ګوډاګي رژیم د راپرځېدو مخنیوی دی. ترکیې خپل ترسیم شوی پلان هغه مهال پلی کړ، چې ډېر اړخونه یې نور هم ورسره وتړل او ترې ویې غوښتل چې د شمال په عملیاتو کې ورسره ګډون وکړي. همدا لامل و چې د حلب جبهه یې کمزورې کړه.

**اې د شام اسلامي خاورې مسلمانانو!**
د ترکي رژیم رول هر بصیرت لرونکي ته روښانه شو. ټول هغه څه چې ترکي رژیم انقلاب ته وړاندې کړل، د شام د مسلمانانو پر وړاندې د مسولیت احساس او د دوی د ملاتړ په موخه نه وو؛ بلکې هغه رول و چې د کفارو ستر رهبر «امریکا» ترسیم کړی و او ترکي رژیم یې له هر ډول سرغړونې پرته پر مخ بیایي. امریکایي استازو او لاسپوڅو هر یوه د شام د انقلاب پر وړاندې جګړه کې رول درلود. د بېلګې په توګه: له یوه اړخه روسیې، ایران او د لبنان ایران پلوه حزب له ظالم رژیم څخه د دفاع دنده پر غاړه لرله او له بله پلوه ترکیې، سعودي عربستان او قطر له انقلاب او ځینو انقلابیونو سره د ملګرتیا او ملاتړ ادعا کوله، تر څو د انقلاب د قطب نما لوری له دوی څخه و ګرځي او د امریکا د سیاسي جوړجاړي په موخه

يې دغه انقلاب د مرګ تر پولې ورساوه. ټول هغه ګوډاګیان چې د شام د انقلاب پر وړاندې يې په جګړه کې برخه لرله، په دغه جرم کې شريكان دي.

**(سَيُصِيبُ الَّذِينَ أَجْرَمُوا صَغَارٌ عِنْدَ اللَّهِ وَعَذَابٌ شَدِيدٌ بِمَا كَانُوا يَمْكُرُونَ)** (الانعام:۱۲۴)

*مجرمانو ته به د دوی د مکرونو له امله ډېر ژر ذلت، رسوايي او د الله عذاب ورسيږي.*

**د حزب التحرير- ولايه سوريې مرکزي مطبوعاتي دفتر**

**شمېره: ۱۴۳۸هـ/ ۰۱۶**

**۱۴۳۸، د رجب ۵ مه**

**۲۰۱۷، د اپرېل ۲ مه**